دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای مؤمنانو! د سړیو کومه ډله دې په نورو سړیو ملنډې ونه وهي کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، او نه دې ښځې پر نورو ښځو ملنډې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او یو بل ته بد لقبونه مه ږدئ. له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډېر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوی لوی ظالمان دي. (الحجرات ۱۰ – ۱۱ آیتونه)

درس حدیث

له ابو امامه رضی الله عنه نه روایت دی چې یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې ایمان څه شی دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې ته خپلې نیکی خوشاله او خپلې ګناه خپه کړې نو ته مؤمن یې. هغه ووېل: ای د الله رسوله! نو ګناه څه شی دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې دی په زړه کې یو شی کرکه پیدا کړه نو پرې یې ږده. (احمد)

شهادت دریم کال، ۱۳ مه ګڼه، پرله پسې ۱۱۳ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د چنګاښ لومړی د۱۴۳۲ هـ ق د رجب ۲۱ مه د۲۰۱۱ م د جون ۲۲ مه

تصمیم اوباما در مورد خروج نیروها از افغانستان نهایی نشده است

PROPERTY OF ACKU

رادیو آزادی:
قرار است بارک اوباما رییس جمهور ایالات متحده امریکا تصمیم خود را مبنی بر تعداد یا اندازه خروج نیروهای امریکایی در یک بیانیه ای امروز چهار شنبه اعلان کند. جی کارنی سخنگوی قصر سفید به روزنامه نیویارک تایمز گفته است، تصمیم رییس جمهور در مورد خروج نیروها از افغانستان هنوز نهایی نشده است.

اما مقامات اداره اوباما گفته اند، بیانیه اوباما روی برنامه کاری مرحله اول خروج نیروهای امریکایی که در ماه جولای آغاز می شود و همچنان روی ستراتیژی وسیع تر مبنی برین که چه تعداد از ۳۰۰۰۰ عسکر اضافی بعد از ماه جولای در افغانستان باقی بمانند متمرکز است.

مقامات اداره اوباما گفته اند، تصمیم در باره تعداد مشخص هنوز نهایی نشده اما بارک اوباما در صدد آنست تا میان تقاضاهای رهبران نظامی که خواهان بطی بودن خروج نیروها از افغانستان هستند و میان مشاورین قصر سفید که از خروج سریعتر نیروها دفاع می نمایند توازن ایجاد نماید.

تصمیم اوباما در زمانی صورت می

بقیه در صفحه ۴

ولسي جرګې چيله رخصتي ۱۵ ورځې نوره وځنډوله

کابل، رسنی:
ولسي جرګې یو ځل بیا خپلې دوبنی رخصتي پنځلس ورځې نوره ظاهراً په دې پلمه وځنډوله چې ګوندي حکومت د کابینې پاتې وزیران د باورراییې د ترلاسه کولو لپاره وروپېژني.

خو کتونکي وايي چې د ولسي جرګې یوشمېر غړي له دې ویرې چې د دوی په غیاب کې به ځانګړې محکمه پرېکړه اعلان کړي، نه غواړي چې په رخصتی لاړ شي.

تاکل شوې وه چې د انتخاباتي درغلیو د څېړنې لپاره جوړه شوې محکمه د خپلو تحقیقاتو پایلې اعلان کړي خو ممکن دا محکمه خپله پرېکړه بیا هم وځنډوي.

د ولسي جرګې غړیو دوې اوونی دمخه هم خپله دوبنی رخصتي پنځلس

پاتې ۳ مخ

د ننګرهار پوهنتون د فارغانو ویاړ غونډې ته د الحاج عبدالهادي ارغندیوال پیغام

د حزب اسلامي افغانستان راتلونکي وارثان تاسې یئ او د خپلو ولسونو فکري روزنه ذهني او عملي تیاری ستاسې مسؤولیت دی

دریم مخ

دننګرهار پوهنتون د فارغانو ویاړ غونډه

کامه وال:
ننګرهار پوهنتون د هېواد په کچه یو دهغو علمي او اکاډیمیکو بنسټونو نه دی چې په خپل اوږده علمي تاریخ کې یې هېواد ته داسې علمي کدرونه وړاندې کړي چې هم د علم په ګاڼه سینګار او هم اسلامي او افغاني ارزښتونو ته ژمن دي او د همدغې ځانګړنې له امله یې د هېواد په کچه یو ځانګړې مقام ترلاسه کړې، د ننګرهار پوهنتون ماحول په ټولیزه توګه یو علمي او اکاډیمیک ماحول دی. ددې پوهنتون د اسلامي چارپیچل په جوړونه کې دهغو ځوانانو رول د یادولو وړ دی چې د حزب اسلامي افغانستان د محصلینو د اتحادیې غړي دي او د حزب اسلامي سره فکري او عقیدوي تړاو لري. حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو د سالمې روزنې لپاره د ځوانانو په نامه ټولنه لري چې د ټول هېواد په کچه یې فعالیتونه دوام لري او موخه یې ټولنې ته په تعلیم او تربیه او اسلامي اخلاقو سنبالو ځوانانو وړاندې کول دي چې په راتلونکې کې د خپلې خاورې او اسلامي امت د

پاتې ۳ مخ

کمک ۳۰۰ میلیون دالری جامعه بین المللی با افغانستان قطع می شود

کابل، رسانه ها:
بعد از آنکه هفته، پیش صندوق وجهی بین المللی پلان حکومت افغانستان را برای معامله با کابل بانک رد کرد، وزارت مالیه این کشور می گوید، حاضر نیست این پس با صندوق وجهی بین المللی در این مورد مذاکره کند.

وزارت مالیه افغانستان پیش بینی می کند، که از این پس کمک ۳۰۰ میلیون دالری جامعه بین المللی با افغانستان قطع خواهد شد. داکتر حضرت عمر زاخیل وال وزیر مالیه افغانستان، اختلافات میان حکومت افغانستان و صندوق وجهی بین المللی را بر سر مشکل کابل بانک عامل اصلی کاهش احتمالی کمک های بین المللی با افغانستان می داند.

بقیه در صفحه ۳

د ایران دفاع وزیر په افغانستان کې دامریکا د دایمي اډو پر طرحې نیوکه وکړه

تاند ویبپاڼه:
احمد وحیدي افغانستان ته له دوه ورځني سفره وروسته ایرنا خبري آژانس ته وویل که امریکایان هوښیار وي باید په افغانستان کې د دایمي اډو د جوړیدا په هلو ځلو سره ځان له اوږد مهاله سرخوږي سره مخامخ نه کړي.

د ایران دفاع وزیر وایي د افغان ملت روحیه موږ ښه پېژنو او هغوي د امریکا د دایمي اډو له جوړیدا اندیښنه لري اوطبیعي خبره ده چې ددغه هیواد مسولان به هم دخپل ملت په پیروی ددغو طرحو ملاتړ ونه کړي.

تاکل شوې ده ډېر ژر د امریکا او افغانستان ترمنځ دستراتیژیک تړون مسوده برابره او د افغانستان او امریکا

پاتې ۳ مخ

د کونړ ولایتي شورا د پاکستان د بریدونو د مخنیوي غوښتونکې شوه

اسعد اباد، پژواک:
د کونړ ولایتي شورا وایي، چې د پاکستان د بریدونو له امله سلګونه کورنی کډوالې شوې او له حکومت څخه یې غوښتنه کړې، چې د دغو بریدونو مخه ونیسي.

د ولایتي شورا غړې دا غوښتنه په داسې حال کې کوي، چې له تېرو شاوخوا دوو اونیو راهیسې د پاکستان له خاورې د کونړ پر یو شمېر سرحدي ولسوالیو له لسو زیات بریدونه شوي، چې په ترڅ کې یې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۱۴ تنه وژل شوي دي.

د ولایتي شورا مرستیال انجنیر اسماعیل شینواري د غبرګولي په ۳۱مه پژواک خبري اژانس ته وویل، چې لهېرو دوو اونیو راهیسې د کونړ پر څلورو ولسوالیو: خاص کونړ، سرکانو، شیګل او دانګام باندېد پاکستان له خوا لسګونه توغندي راتوغېدلي دي.

پاتې ۴ مخ

روزنامه نگار افغان در گفت‌وگو با فارس:

اختلاف پنتاگون و کاخ سفید درباره خروج از افغانستان در حال اوج گیری است

خبر گزاري فارس:
مدیر مسئول روزنامه ویسا چاپ افغانستان اختلاف میان کاخ سفید و سنا با پنتاگون بر سر خروج نظامیان امریکایي از افغانستان را ناشي از مخالفت مردم امریکا با حضور نظامي و جنگ عنوان کرد.

"زبیر شفیقي "در گفت‌وگو با خبرنگار خبر گزاري فارس در کابل، اظهار داشت: طرفداران جنگ افغانستان در امریکا و اروپا به پایین‌ترین سطح خود رسیده است.

مدیر مسئول روزنامه "ویسا" تاکید کرد: اختلاف میان پنتاگون، مجلس سنا و رئیس جمهور امریکا از ابتدا

بقیه در صفحه ۴

حقاني شبکې پر قاضیانو او محکمو د حملو ګواښ وکړ

تاند ویبپاڼه:
د حقاني شبکې، چې له القاعده او آی ایس آی سره په تړاو تورنه ده، په کابل کې د دوو تروریستانو د اعدامېدو په وړاندې خبرداری ورکړ او ویې ویل چې د هغوی په غچ کې به د افغانستان پر محکمو او قاضیانو بریدونه وکړي.

د کابل بانک د جلال اباد په څانګه کې د فبروری په نولسمه نېټه د افغان امنیتي ځواکونو په جامه کې څو تنو تروریستانو برید وکړ چې څلوېښت تنه یې ووژل او اویا نور یې ژوبل کړل. دولتي ځواکونو د دې حملې دوه عاملان چې یو زرعجم (پاکستانی) او بل مطیع الله (د کونړ اوسېدونکی) نومېږي له ټولو قضایي

بقیه در صفحه ۳

آمادگی ها برای برگزاری کنفرانس دوم بُن

اعزامی

رسانه های خبری جهان، از آن جمله تازه ترین شماره مجله شپیگل چاپ آلمان از برگزاری کنفرانس دیگری خبر داده اند که بنابر پیشنهاد حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان در ماه دسامبر سال جاری، در شهر بن آلمان برگزار می گردد. برگزاری کنفرانس بین المللی دیگر در مورد اوضاع افغانستان در دسامبر امسال در شهر بن آلمان، در حقیقت ادامه همان کنفرانس است که در دسامبر سال ۲۰۰۱ م)ده سال قبل(به ابتکار ملل متحد در شهر بن دایر گردید و در آن شالودهٔ نظام سیاسی فعلی افغانستان ریخته شد. اکنون که ده سال ازین تحول می گذرد و طی این مدت جامعه جهانی با اعزام ۱۵۰ هزار عسکر و پرداخت صدها ملیارد دالر توانستند که دولت افغانستان را سر پا ایستاده کند. ملل متحد طی این مدت با برگذاری چندین کنفرانس بین المللی دیگر در توکیو، برلین، لندن)دوبار(، پاریس، روم، دهلی، لزبن و ... برای تحقق طرح ها و اصول قبول شده کنفرانس بن بذل مساعی کردند و در سالگرد ده سالگی این وثیقه مهم بین المللی، دولت افغانستان، ملل متحد و جامعه جهانی، بار دوم یاد و خاطره کنفرانس بن را تازه می کنند.

با گردهمایی در شهر بن این بار به ابتکار و گردانندگی دولت افغانستان، دستاوردهای ده ساله را بر می شمارند، کمی ها و کاستی های آن را اصلاح می کنند و برای ادامه کمک های غیر نظامی به افغانستان بخاطر خودکفایی اقتصادی برای ده سال آینده برنامه ریزی میکنند،

بقیه در صفحه ۲

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ښاغلی ایکن بیري!

لږ د افغانانو هم واوره!

په کابل کې د امریکا سفیر ایکن بیری د یکشنبې په ورځ د هرات په ولایت کې د یو کتابتون د پرانستې پر مهال وویل: په افغانستان کې بهرنیو ځواکونو ته د اشغالګرو نسبت کول د امریکا پت ته زیان رسوي، هغه وویل کله چې اورو مونږ ته د نیواکګر خطاب کېږي او زموږ سخاوت مندانه مرستې بې اغیزې، او د اداري فساد سرچینه بلل کېږي دا زموږ عزت ته زیان رسوي او موږ د کارونو په ترسره کولو نهیلي کوي.

ښاغلی ایکن بیری خو امریکا ته د نیواکګر خطاب بده منلې او په دې خبره خپل ژور خپګان یې څرګند کړې خو په دې خبره یې غور نه دی کړی چې امریکا ته د نیواکګر خطاب پر کومو دلایلو او وجوهاتو شوې آخر هغه کوم علتونه دي چې خلک یې دېته هڅولي دی چې امریکا ته د نیواکګر په ستر ګه و ګوري؟ ! که ښاغلی ایکن بیری لږ غونډې هم غور او فکر کړی وای نو خامخا به ددې علتونه او لاملونه یې پیدا کړي وو، خو ښاغلی ایکن بیری ته به موږ هغه علتونه په ګوته کړو چې د افغانستان زیاتره وګړي یې په دې قانع کړي دي چې امریکا نیواکګر وبولي.

له دې واقعیت نه هېڅوک ستر ګې نشي پټولې چې دوستي او دښمني دواړه جلا جلا تعریفونه لري په دوستۍ کې دښمني کله هم نه ځائېږي، او نه هم دوست د دوستي په لباس کې داسې کړنې ترسره کوي چې دهغه دوستي تر سوال لاندې راولي او پر هغه د دښمن ګمان وکړی شي. امریکا افغانستان ته خپل راتګ یو دوستانه عمل بولي او افغانانو ته داډ ورکوي چې دهغوی د مرستې او بیارغاونې لپاره راغلي ده، هغه دلته صرف له القاعدې سره د جګړې لپاره خپل پوځیان را استولي دي نه د افغانانو د وژلو لپاره، خو متأسفانه چې امریکا او ناټو فوځیانو په افغانستان کې هغه کارونه ترسره کړل چې دهغوی دغه ټولې دعوې دروغجنې ثابتې کړې، ددې پر ځای چې له القاعدې سره جګړه پر مخ بوځي د بې ګناه ولسي وګړو پر وژلو لاس پورې کړ، جنازې، جرګې، ودونه او د سپین ږیرو د موټرو کاروانونه یې بمبار کړل، پوره پوره کلي یې په کنډوالو بدلې کړې، او اوسیدونکې یې د بمونو په لمبو کې وریت کړل. په ګڼو ولایتونو کې د بې ګناه ملکي وګړو کورونو ته ننوتل، زنانه، سپین ږیرې او ماشومان یې د ټوپکو په ګولیو غلبیل غلبیل کړل، ډېر یې په سپیو وداړل ان چې د ګوارې پر ماشومانو یې هم سپي خوشې کړل. ولس د هغوی په دې نارواو کړنو احتجاجونه وکړل، سړکونو ته ووتل او دداسې عملیاتو د بندیدو غوښتنه وکړه. ولسمشر کرزي هم څو څو واره غوښتنه وکړه چې امریکایي او ناټو ځواکونه دې له داسې خودسرو ناروا عملیاتو څخه لاس په سر شي خو هیچا ورته غوږ ونه ګراو، ایکن بیري دې پخپله وضاحت ورکړي چې ایا له القاعدې سره د جنګ تر نامه لاندې په جګړو کې عام ولسي وګړو ته زیات نقصان نه دی رسېدلی؟ آیا د زر ګونو په شمېر کې بې ګناه ولسي وګړي د امریکایي او ناټو ځواکونو په خود سریو بمباریو او عملیاتو کې نه دی وژل شوي؟ آیا د بې ګناه ولسي وګړو زر ګونه کورونه او جونګړې په کنډوالو نه دي بدلې شوې؟ ! آیا امریکایي او ناټو پوځونو د بې ګناه ملکي وګړو لاسونه او پښې یې نه دي غوځې کړي؟ آیا په امریکایي جیلونو کې له زندانیانو سره له اخلاقه پرېوتې او غیر انساني سلوک نه دی شوی؟ آیا ددې تر څنګ د بیان د آزادۍ او د ښځو د حقوقو تر نامه لاندې د افغانانو فرهنګ او کلتور ته د نقصان رسولو کوښښ نه دی شوې؟ له څه شک پرته هر څه شوي او هېڅوک نشي کولې چې لدې څرګند واقعیت نه انکار وکړي.

اوس دې ښاغلي ایکن بیري پخپله انصاف وکړي چې آیا دداسې اعمالو په ترسره کولو پخپله امریکا دېته لاره نه ده هواره کړې چې افغانان امریکا ته نیواکګر ووایي؟ ! دوست او مرسته کوونکی خو د خپل دوست له خوښې او مشورې پرته پخپل سر یو کار هم نه ترسره کوي او نه هم دهغه سر او مال ته نقصان رسوي، داسې احساس هم ورته نه ورکوي چې د دښمن ګمان ورباندې وکړي او دېته اړ شي چې دهغه له سلوک نه فریاد وکړي.

د افغانستان جنګ ځپلې ولس دوستانو ته هم ضرورت لري او مرسته کوونکو ته هم، هر څوک چې ورسره د اصولو په مطابق د دوستي او مرستې لاس غځوي دهغوی قدر او شکریه یې ادا کوي، دا د امریکا پورې منحصره ده چې هغه له افغانانو سره اصولي او معیاري دوستي ته ترجیح ورکوي او که داسې دوستي غواړي چې د دوستي د سپېڅلی عنوان لاندې د ځینو ښېګڼو تر څنګ د ظلم میچنې هم ورباندې وګرځوي؟ خو هغوی نه ورباندې اعتراض وکړي او نه هم تنقید، بلکې هر څه د دوستي تر عنوان لاندې په چوپه خوله وزغمي خو دا کار ناشونی ځکه دی چې افغانان هم له غوښې نه جوړ شوي انسانان دي، ددې توان نه لري چې د ظلم او بې انصافی در نه پیټی په اوږو یوسي، د انساني فطرت له مخې به خامخا د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره فریادونه او احتجاجونه کوي، د ښه سلوک او د ښې دوستی به قدرداني کوي او د بدسلوک په خلاف به پاڅون کوي.

د افغانانو په زړونو کې د امریکا عزت هله ځائېدلې شي چې هغوی هم د افغانانو د ژوند، عزت او آبرو خیال وساتي که نه نو د یو لاسه کله هم ټک نه خیژي، ظلم ته به ظلم، او انصاف ته به انصاف ویل کېږي.

آمادگی ها برای برگزاری کنفرانس دوم بُن

(بقیه از صفحه اول)

... صاحب نظران را عقیده بر آنست که کنفرانس آیندۀ بن، ادامه همان کنفرانس های گذشته بین المللی در مورد افغانستان بوده و محورهای اصلی بحث آن، نحوۀ همکاری جامعه جهانی با افغانستان پس از سال ۲۰۱٤ م است. درین کنفرانس در مورد انتقال مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای مسلح داخلی، وعده کمک های ده ساله دیگر به افغانستان و مهمتر از همه در بارۀ پروسه تفاهم و مصالحه با مخالفان مسلح و دادن حق مشارکت با آنها در نظام سیاسی، تصمیم اتخاذ خواهد گردید.

هر چند بعضی از تحلیل گران به این باور اند که در کنفرانس بن روی تقسیم قدرت و نقایص توافقنامه بن اول و نیز تدوین خطوط اساسی نظام سیاسی بحث خواهد شد، ولی جامعه جهانی، سازمان ملل متحد و اندیشمندان سیاسی در داخل و خارج کشور به این نتیجه رسیده اند که کنفرانس اول بن باوجود نکات خوب و دستاوردهای مثبت آن، دارای کاستی ها و نقایصی نیز بود که اینک جامعه جهانی پس از ده سال در صدد آنست تا بخاطر زدودن آنها در کنفرانس دیگری باز هم در بن به رفع آن ها بپردازند.

تلاش و مساعی کشورهای عضو ناتو و آیساف مبنی بر اینکه نیروهای شان را از افغانستان خارج سازند، انتقال مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای داخلی و به بن بست مواجه شدن راه حل نظامی قضیه، عواملی اند که همگان را واداشته تا در جهت حل سیاسی قضیه تلاش نمایند، حل سیاسی ممکن نیست جز آنکه پروسۀ صلح تقویت گردد و همه اطراف با اخلاص و صداقت به میز مذاکره حاضر شوند. حقیقتی که دولت افغانستان از سه سال به اینطرف به کنه آن پی برده و مجدانه در صدد پیاده کردن آنست. مساعی که دولتمردان افغان در تشکیل جرگه مشورتی صلح بخرج داده و متعاقب آن تشکیل شورای عالی صلح که در ظرف هفت ماه گامهای عملی مفیدی را در جهت تسریع پروسه صلح با مخالفین برداشته اند، اینها همه حاکی از آنست که مصالحه یگانه راه حل بحران افغانستان است و ترکیز روی راه های دیگر برای افغان ها جز گسترش تباهی، بدبختی و عقب ماندگی، دستاورد دیگری در بر ندارد.

حقیقی که نماینده های قبلی و فعلی سازمان ملل متحد و حتی سران دول نیرومندی که در چوکات آیساف و ناتو در افغانستان بیشترین نیروها را دارند، به همین نتیجه رسیده اند؛ رئیس جمهور امریکا و صدراعظم انگلستان به عنوان دو رهبریکه در حقیقت فرماندهی جنگ نیروهای خارجی متعلق به آنهاست، در گفتگوهای اخیر شان در لندن با ارائه پیش شرط های گذشته خویش با لحن نرم، خواهان گشایش باب مذاکره با مخالفان مسلح شده اند.

بارک اوباما در گفتگوی که اخیراً با رسانه ها داشت، اذعان داشت که ایالات متحده امریکا با طیف وسیعی از افراد و گروه ها در منطقه وارد گفتگو شده و از طرح صلحی که رئیس جمهور افغانستان ساخته حمایت می کند، زیرا مساعی شورای عالی صلح دولت افغانستان در شکل گیری گفتگوها کمک کرده و تا حال خیلی از افراد و فرماندهان طالبان، علاقمندان شان را به پروسۀ صلح ابراز داشته اند.

بقول اوباما، هر چند جریان گفتگو با رهبران طالبان پیچیده است، ولی به نظر ما ایجاب می کند که درین قضیه یک سازش سیاسی بمیان بیاید، با این مقصد که افغانستان دیگر پناهگاه تروریزم نگردد و ثانیاً نهادهای اجتماعی ایکه در سایه حقوق بشر در افغانستان شکل گرفته اند، حفظ گردند.

اخیراً رسانه ها از قول شتاینر (دیپلومات آلمانی) افشا کرد که آلمان در مذاکرات فیمابین ایالات متحدۀ امریکا و طالبان نقش میانجی را بازی کرده است. مجلۀ شپیگل از قول نماینده آلمان در افغانستان نوشته است که تا حال مقامات امریکایی بطور مستقیم چندین بار با نماینده گان طالبان گفتگو کرده اند که آخرین دور آن بتاریخ ۷ و ۸ می در آلمان صورت گرفته است. نشریه های نیویارک تایمز و واشنگتن پست چاپ امریکا نیز از روی مذاکرات مخفی امریکا و طالبان پرده برداشته و گفته اند تا حال حداقل سه بار میان هر دو طرف در آلمان و قطر مذاکره صورت گرفته است.

مجلۀ شپیگل در شماره اخیرش نوشته است که به پیشنهاد رئیس جمهور افغانستان در ماه دسامبر سال جاری میلادی، کنفرانسی در باره مسایل افغانستان در شهر بن برگزار خواهد گردید. در کنفرانس اول بن که در حقیقت به اساس یک موافقنامه سیاسی و تحت سرپرستی ملل متحد میان جناح های مخالف طالبان شکل گرفت و با کسب حمایت جامعه جهانی، پس از سقوط رژیم طالبان، دولتی تحت رهبری حامد کرزی مشروعیت یافت. ولی در آن هنگام بنابر آشفتگی اوضاع سیاسی، شکست و سرخوردگی طالبان، نارضایتی ایالات متحده امریکا و متحدین غربی اش از برخورد رژیم طالبان بخاطر عدم اخراج اسامه بن لادن از افغانستان و بالاخره خاطرۀ تلخ جبهه مقاومت از جنگ های هفت ساله خونین با طالبان، برای مخالفین مسلح فعلی دولت در کنفرانس بن سهمی داده نشد و همین اغماض باعث آن گردید که گروه های اول حکومت حامد کرزی چندان جدی و محسوس نبود و تصور دولت مردان افغان این بود که مخالفین شان ضعیف است و بزودی آنها را به کمک و حمایت نیروهای آیساف و ناتو سرکوب خواهند کرد. ولی رویدادهای سال های اخیر خلاف این تصور واقع شد و مخالفین بجای خورد شدن روز تا روز قویتر گردیده و درد سر بزرگی برای دولت و نیروهای خارجی گردیدند.

برگزاری کنفرانس آیندۀ بین المللی در بن، فرصتی است که جامعه جهانی و دولت افغانستان، روی همان نکات و واقعیت های با دقت و ژرفنگری بیندیشند که در کنفرانس اول بن از آن ها چشم پوشی شده بود و به سبب آن طی ده سال گذشته مردم افغانستان و خارجی ها متضرر شدند و قربانی دادند و از اجندای بحث انداخته شده بودند.

ټګي برګي منع ده

اسلام کې هر ډول ټګي برګي، غولول او تېر ایستل منع دي.

حدیث کې داسې راځي:

عن ابی هریرة أن رسول الله صلی الله علیه وسلم مر علی صبرة طعام فأدخل یده فیها فنالت اصابعه بللا فقال: ((ما هذا یا صاحب الطعام؟)) قال: أصابته السماء یارسول الله. قال: ((أفلا جعلته فوق الطعام حتی یراه الناس من غش فلیس مني)) (رواه مسلم)

ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د غلې په یو ډېری تېرېده، خپل لاس یې پکې ور دننه کړ، ګوتې یې لمدې شوې نو ویې فرمایل: ای د غلې والا دا څه دي؟ هغه وویل: ای د الله پیغمبره! باران پرې شوی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: "بیا دې د غلې دپاسه ولې نه اچوله چې خلک یې وګوري، چا چې ټګي وکړه هغه له ما څخه نه دی ".

بل حدیث کې داسې راځي:

عن واثلة بن الاسقع قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ((من باع عیبا لم ینبه لم یزل فی مقت الله اولم تزل الملائکة تلعنه)) (رواه ابن ماجه)

واثله بن اسقع رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمایل یې: "چا چې عیبجن شی خرڅ کړ او عیب یې ونه ښود نو تل به د الله په غوسه کې وي یا به تل پرښتې پرې لعنت وایي."

د ننګرهار پوهنتون د فارغانو وياړ غونډې ته د الحاج عبدالهادي ارغنديوال پيغام

الحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلاة على سيدالانبياء والمرسلين، اما بعد : اعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم «قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ» صدق الله العظيم.

د ننګرهار پوهنتون ډېرو قدرمنو استازانو، محصلينو، نويو فارغ شويو ورونو، د ننګرهار د ولايتي دفتر مسؤولينو او د فارغ التحصيل محصلينو پلرونو، ورونو او خپلوانو ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته !

تر هر څه لومړی پر ځان لازم ګڼم، چې تاسې ټولو ته د نن ورځې د پرتمينې غونډې له امله مباركي ووايم، تاسي ټولو ته د فارغ شويو ځوانانو د فراغت له امله يو ځل بيا مباركي وايم، مبارك مو شه !

قدرمنو او د مبارك اسلام د لارې لاروېو ورونو !

نن د ډېرې خوښۍ ورځ ده څكه دا د هغو ځوانانو د فراغت غونډه ده چې د اسلام او د ګران هېواد افغانستان آينده وربورې تړلې ده، هغه ځوانان چې په آينده كې به د اسلامي انقلاب او مقدس جهاد د دوه ميليوني شهيدانو، كونډو، ورو او يتيمانو وارثان ګڼل كېږي او دوی به هم كه الله جل جلاله توفيق وركړ پر دغه ميراث افتخار كوي او د ساتنې او حفاظت لپاره به يې شپه او ورځ هڅې او كوښښونه كوي او هم تاسې به ياست چې زموږ د بې وزلې ټولنې په اجتماعي، اخلاقي او سياسي رغاونه كې به د صالحو او ديندارو شخصيتونو په حيث پېژندل كېږئ.

ډېرو قدرمنو او زړه ته رانژدې ورونو ! حزب اسلامي افغانستان ستاسې په څېر نېكانو او صالحو ځوانانو افتخار كوي، زموږ سترګې د افغانستان د اسلامي آيندې په باب ستاسې په لور دي، هم تاسې ته مو تمه ده، چې د اسلامي نهضت دروند خوله افتخاره ډك بار به پر خپلو اوږو اخلئ، تاسې ته په تمه يو، چې د اسلامي نهضت راتلونكي وارثان به ياست، همدا ستاسې په څېر ځوانانو پورې مو خپلې ارزوګانې تړلې دي، چې د اسلام او حزب اسلامي افغانستان د مبارزې سنګرونه به خالي كېدو ته نه پرېږدئ، په دې لار كې به زموږ تېرې او اوسنې نيمګړتياوې تاسې پوره كوئ او د خپل ګران هېواد او هېوادوالو د صالحې او سالمې روزنې لپاره به شپه او ورځ هڅې كوئ، د شهيدانو په وينو رنګين دې هېواد كې به د اسلامي نظام د قيام لپاره مبارزه ستاسې وظيفه وي.

ښاغلو ځوانانو او قدرمنو ورونو ! پوهېږو چې د اسلامي نظام د قيام لپاره د مبارزې لپاره ډېره اغزنه ده او زموږ په څېر كسانو هلكتوب، ځوانې او د ژوندانه ټولې شېبې په همدغه حالت كې تېرې شوې او اوس دا دی ګورئ چې ورځ په ورځ مرګ ته نژدې كېږو، ولې يقين لرو چې مرګ به مو هم لكه د ژوندانه په څېر د مبارك اسلام د واكمنې لپاره مو چې له افتخاره په ډكه مبارزه كې تېر كړ، همداسې به مو كه خدای جل جلاله كول ستاسې په څېر د اسلام پر ګاڼه سمبالو ځوانانو په موجوديت كې له وياړ او افتخاره ډك وي او روحونه به مو مطمئن وي، چې ستاسې په څېر شاه زلمي مو تر شا پاتې دي.

زه همدا نن تاسې ته وايم، د حزب اسلامي افغانستان راتلونكې رهبري او قيادت به ستاسې پر غاړه وي، د حزب اسلامي افغانستان راتلونكي وارثان تاسې ياست، د حزب اسلامي افغانستان ټول افتخارات به ستاسې وي، د حزب اسلامي افغانستان د ليكو نظم او انسجام به ستاسې مسؤوليت وي، په ګران هېواد افغانستان كې به د اسلام د سرلوړۍ توغ ستاسې پر اوږو وي، د اسلامي نظام لپاره به د خپلو ولسونو فكري روزنه او ذهني او عملي تياری ستاسې مسؤوليت وي، د افغاني ټولنې د اصلاح وظيفه به ستاسې وي، هم تاسې به ياست چې د خپلې ټولنې د اصلاح او د مقدس اسلام د اساسي ښوونې او روزنې لپاره منظم پلانونه او پروګرامونه جوړوئ.

ښاغلو ورونو ! كه څه هم پورته خبرې په خوله ډېرې آسانې اداء كېدای شي، ولې په حقيقت كې يوه ډېر درانه او خطرناك بار ته اوږه وركول دي، زموږ اسلامي مبارزه له ځكرونو، زندانونو، اعدامونو او شهادتونو سره مل پيل شوې وه، خو زه له پاك الله جل جلاله اميدوار يم، چې د راتلونكو مسلمانو ځوانانو لپاره هغسې تكاليف نه وي، الله جل جلاله دې له تاسې نه د سولې، امن، اتحاد او اقتصادي سوكالۍ په فضا كې د خپلې ټولنې د اصلاح او رغاونې كار واخلي، خدای جل جلاله مو له غمونو، مصيبتونو او مشكلاتو وساته، خدای جل جلاله دې موږ تاسې ټولو ته توفيق را په برخه كړي چې د ګران اسلام د سرلوړۍ او غوړېدو لپاره كار وكړو. او په خپله ټولنه كې اسلام ته د يو متعهد او د اسلام پر ګاڼه سمبال او با عمله او باكرداره ځوانانو په حيث ژوند وكړو، او د كامل عقل او تدبير په رڼا كې د خپلې ټولنې د اصلاح، ذهني او فكري روزنې له مسؤوليته ډك بار پورته كړای شو.

زه يو ځل بيا تاسې ټولو ته د حزب اسلامي افغانستان د مشرانو په استازيتوب مباركي وايم، الله جل جلاله مو روغ، آباد، سوكاله او سرلوړي لره.

د ننګرهار پوهنتون د ...

خدمت معندر وګرځي، چې تر ډېره برېده په دې چاره كې د مسلمانانو ځوانانو په ملاتړ برلاسي شوي هم يو چې ژوندې ښېلګه يې د جوزا پر ۲۷ مه د جمعې په ورځ د حزب اسلامي افغانستان د هغو ځوانانو د فراغت په وياړ جوړه شوې غونډه وه چې له سلو زياتو فارغو متحدو ځوانانو ته پكې ستاينليكونه وركړ شو.

ياده غونډه د حزب اسلامي د سيمه ييز دفتر په هڅو جوړه شوې وه چې د قرآن كريم د مباركو آياتونو په تلاوت سره پيل شوه د غونډې پرانستونكي او هركليزه وينا د ننګرهار ولايت د سيمه ييز دفتر مشر استاد عبدالعلي وكړه. په دغه غونډه كې له كابله د حزب اسلامي د رهبري شوری غړو او راغلي هيأت هم ګډون درلود. ددې غونډې ويناوال د حزب اسلامي افغانستان مرستيال انجنير محمد خان جهادي شخصيت او د رهبری شوری غړی، عبدالجبار شلګری، مولوی جانباز سرفراز، د ننګرهار پوهنتون استاد محمد شريف رحماني، استاد حكم خان حبيبي وو او د حزب اسلامي د رئيس او اقتصاد وزير الحاج عبدالهادی ارغنديوال پيغام سيد فضل مولی "لټون" له لوری ولوستل شو.

ويناوالو ځوانان په راتلونكي كې خپلو مسؤوليتونو ته متوجه كړل چې د ځوانانو له لورې د الله اكبر په شعارونو بدرګه كېده، ددې غونډې د نورو سلګونو ګډون والو ترڅنګ د ولايتي شوری غړو محمد ايوب بابا، الحاج عبدالقهار لودين او د ننګرهار د ښوونې او روزنې تدريسي مرستيال استاد ابو زاهد هم ګډون درلود. دغه پرتمينه غونډه د مشرانو له لورې د ستاينليكونو په وركولو او د مولوی جانباز سرفراز په دعائيه پای ته ورسېده.

كمک ۳۰۰ ميليون دالری...

آقای زاخيل وال می ګويد، هرچند آنان تقريباً تمام تقاضا هايی اين صندوق را در ارتباط به مشكل كابل بانك بر آورده ساخته اند، اما نمی دانند كشور ها و سازمان های تمويل كنندهء افغانستان می خواهند افغانستان در جهت حل مشكل كابل بانك چه كاری را انجام بدهد.

وزير ماليهء افغانستان به طور مشخص نه ګفت اين فشار های سياسی از سوی كدام ګروه و يا كشور بالای آنان وارد می شود. به ګفتهء آقای زاخيل وال مذاكرات ميان صندوق وجهی بين المللی و حكومت افغانستان حدود ۱۰ ماه پيش به هدف حل مشكل كابل بانك راه اندازی شده بود. اما وی تاكيد كرد كه از اين پس تداوم اين مذاكرات فايدهء نخواهد داشت.

برخی از رسانه ها در هفتهء ګذشته خبر دادند، كه بانك جهانی از پرداخت ۷۰ مليون دالر جهت بازسازی افغانستان بعد از آن خود داری كرد، كه صندوق وجهی بين المللی با حكومت افغانستان به تاريخ تعيين شده روی حل فساد كابل بانك به موافقه نرسيد.

شماری از كارشناسان افغان می ګويند، عدم پرداخت اين مقدار پول سبب عدم تطبيق پروژه های انكشافی در افغانستان می شود.

ګزارش ها در مورد متشنج شدن روابط ميان حكومت افغانستان و صندوق وجهی بين المللی در حالی به نشر می رسد، كه ګفته می شود، ۵۰ درصد مصارف امور غير امنيتی حكومت افغانستان به شمول معاشات مامورين ملكی اين كشور از طريق صندوق وجهی بين المللی تمويل می شود.

اين مساله پرسشی را در نزد برخی ها به ميان آورده كه آيا حكومت افغانستان بدون حمايت صندوق وجهی بين المللی توانايی پرداخت معاشات نزديک به ۲۵۰ هزار مامور ملكی اش را دارد؟

د ايران دفاع وزير په...

چارواك به دهغه پر جزياتو موافقې ته ورسېږي.

دځو اډو جوړيدا ددې طرحې مهم ټكي دي او ټاكل شوې ده په افغانستان كې دامريكا د احتمالي شتون دنيتې په هكله مذاكره و شي.

كله چې په افغانستان كې دامريكا د دايمي اډو دشتون خبره مطرح شوې ايران تل منفي غبرګون ښودلی دی.

تر دې مخكې په مزار شريف كې دايران قونسول سعيد زينتي دسمنګان له والي سره په كتنه كې ويلي ؤ دافغانستان ګاونډيان په افغانستان كې دامريكا د دايمي شتون په هكله شكونه او شرطونه لري.

په داسې حال كې چې د ايران دفاع وزير د كابل له سفره وروسته د امريكا له دايمي اډو خپګان څرګندوي په تهران كې دايران او افغانستان دامنيتي كميسون لومړنۍ غونډه جوړه شوې ده.

ولسي جرګې خپله رخصتي...

اوونی ځنډولې وه څو د دوی په وينا په دې موده كې د حكومت له لورې د ورمعرفي كېدونكو وزيرانو كاري سوابق وڅېړي.

سره له دې چې ولسمشر كرزي تېر ځل هم ويلي و چې د ولسي جرګې غړي كولی شي رخصتي واخلي او چې كله له رخصتي راغلل پاته وزيران به د باور رايې لپاره ورمعرفي كړي. خو د ولسي جرګې د وكيلانو اصرار ښيي چې د دوی ستونزه بل ځای ده.

د كرزي د حكومت اوو وزيرانو تراوسه پورې باور رايې نه دي ترلاسه كړي. ولسي جرګه وايي چې بايد حكومت ژر تر ژره دا اووه وزيران ورمعرفي كړي.

د عامې روغتيا، ترانسپورت او هوايي چلن، لوړو زده كړو، مخابراتو، ابو او انرژۍ، د ښځو چارو او د كډوالو د چارو وزارتونه د سرپرستو وزيرانو له لورې اداره كېږي.

د مالوماتو له مخې د څانګړې محكمې تحقيقاتو په انتخاباتو كې جدي درغلی ثابتې كړي او ممكن د اوسنی ولسي جرګې له پنځوسو تر اتيا غړي د درغلی په خاطر له جرګې وايستل شي.

حقاني شبكې پر قاضيانو ...

مراحلو وروسته د كابل په پلچرخي محبس كې اعدام كړل.

د افغانستان د ملي امنيت رياست وويل چې د زرعجم مړی به په كابل كې د پاكستان سفارت ته وسپارې او د مطيع الله مړی به په كونړ كې خپلې كورنۍ ته ولېږي.

د حقاني شبكې، چې د پاكستان په شمالي وزيرستان كې دېره ده، ويلي چې كه د دوی كسان، چې د جلال اباد د كابل بانك پر څانګه يې بريد كړی، اعدام شول، انتقامي بريسونه به وكړي.

د رويټرز خبري اژانس د راپور له مخې د حقاني شبكې د جنګې چارو مشر سراج الدين حقاني د زرعجم او مطيع الله د اعدام د خبر تر تاييد كېدو لږ مخكې وويل: "كه د افغانستان له حكومت سره زموږ بنديان اعدام شول، موږ به نوي عمليات پيل كړو او بوازې به محكمې او قاضيان په نښه كړو."

رويټرز وايي د حقاني پټه شبكه، چې ډېرې كمې اعلاميې او خبرداري خپروي، دې خبري اژانس ته د خپل يوه مهم قومندان د صلاح الدين ايوبي په وسيله دا پيغام لېږلی دی.

د اسلامي تاريخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دكتور عبد الوهاب (حسام)

(يوويشتمه برخه)

س ۳۷۱: د دوهمې هجري پېړۍ په سر كې چا په مصر كې لومړی احاديث په مسند كې وليكل؟

ځ: اسد بن موسی أموي.

س ۳۷۲: د دوهمې هجري پېړۍ په سر كې چا په كوفه كې لومړی احاديث په يو مسند كې وليكل؟

ځ: عبد الله بن موسی.

س ۳۷۳: د دوهمې هجري پېړۍ په سر كې چا په بصرهٔ كې لومړی د احاديث مسند وليكه؟

ځ: شيخ مسدد.

س ۳۷۴: چا لومړی په صحيح احاديثو كې مستقل كتاب وكاږه؟

ځ: امام بخاري.

س ۳۷۵: چا لومړی په غريبو احاديثو كې مستقل كتاب وليكلو؟

ځ: نضر بن شميلي او ابو عبيده معمر بن مثنی.

س ۳۷۶: چا لومړی د حديثو ډولونه ترتيب كړل؟

ځ: ابن صلاح لومړی شخص و چې د احاديثو ډولونه يې ترتيب كړل.

س ۳۷۷: چا لومړی څلوېښت احاديث را و ايستل؟

ځ: حافظ ابو طاهر سلفي.

س ۳۷۸: چا لومړی د (نجوی) په آيت عمل وكړ؟

ځ: علي بن ابي طالب رضي الله عنه.

س ۳۷۹: كومه لومړی معاهده وه چې پيغمبر عليه السلام په كې شركت كړی؟

ځ: هغه معاهده چې د حلف الفضول په نوم يادېږي او دا د جرعان د زوي عبد الله په كور كې وه.

س ۳۸۰: په كوم شي الله پاك لومړی قسم ياد كړ؟

ځ: قلم: قلم اول شی دی چې الله پاك پرې په قرآن كريم كې قسم ياد كړی دی. الله فرمايي: [(ن) و القلم و ما يسطرون] او دا سورت د علق د سورې نه وروسته نازل شوی دی.

س ۳۸۱: په اسلام كې د پيغمبر عليه السلام لومړی اولاد څوك و؟

ځ: عبد الله په اسلام كې د پيغمبر عليه السلام لومړی اولاد و.

س ۳۸۲: په اسلام كې لومړی قاضي څوك و؟

ځ: محارب بن دينار ته منسوب خبر دی چې وايي: عمر رضي الله عنه لومړی سړی و چې قضا يې كړې او ابوبكر رضي الله عنه په قضا ګومارلی و.

س ۳۸۳: د تركانو نه چا لومړی د قيمتونو او وزنونو د مراقبت دنده اخستې وه؟

ځ: منكلي بغا عجمي د تركانو نه لومړی سړی چې په ۸۱۹هجري كال د ملك مؤيد په زمانه كې دا دنده اخستې وه.

س ۳۸۴: د شرابو په هكله كوم آيت لومړی نازل شو؟

ځ: [يسألونك عن الخمر و الميسر قل فيهما اثم كبير و منافع للناس]

س ۳۸۵: كوم كلی د ځمكې په سر لومړی او چا جوړ كړی؟

ځ: د ځمكې پر مخ لومړی كلی (ثمانين) و او نوح عليه السلام اباد كړی و.

س ۳۸۶: څوك لومړی ومړ؟

ځ: آدم عليه السلام.

س ۳۸۷: لومړی وبا په اسلام كې كومه وه؟

ځ: سيوطي په خپل كتاب اوايل كې ذكر كړې چې د (عمواس) وبا لومړی وبا وه او په ۱۸هجری كال كې د عمر بن خطاب رضي الله عنه په وخت كې پيښه شوې وه.

س ۳۸۸: چا لومړی لبيک و ويلو؟

ځ: سيوطي د انس په روايت ويلي چې ملايكو لومړی لبيک و وايه.

س ۳۸۹: چا لومړی د كعبې غولی جوړ كړ؟

ځ: سيوطي ويلي عبد الله د زبير زوي لومړی سړی و چې د كعبې غولی يې جوړ كړ.

س ۳۹۰: چا لومړی په طواف كې د ښځو او سړو تر منځ جدا والی راوست؟

ځ: سيوطي وايي: خالد د عبد الله قسري زوي چې كله د عبدالملك د مروان زوي لخوا د مكې د والي په حيث وګومارل شو هغه په طواف كې د ښځو او سړو ترمنځ جداوالی راوست.

س ۳۹۱: چا لومړی حج كړی؟

ځ: امام شافعي په خپل كتاب (أم) كې د محمد بن كعب په حواله ليكي چې ملايكو لومړی حج كړی دی.

س ۳۹۲: چا لومړی د كعبې نه طواف كړی؟

ځ: سيوطي د ابي شيبه په حواله چې هغه د ابن عباس نه روايت كوي وايي: ملايكو لومړی د بيت الله نه طواف كړی.

س ۳۹۳: چا لومړی د انسان د الوتنې فكر كړی دی؟

ځ: عباس بن قرناس لومړی مسلمان سړی و چې د انسان د الوتنې فكر يې كړی و.

(نور بيا)

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

نیویارک ټایمز:
نیویارک ټایمز ورځپاڼې، د طالبانو محدود مشران د خپل لوري د بدلولو لپاره د افغانستان د حکومت وړاندیزمنې، ترسرلیک لاندې یوه مقاله خپره کړې چې په یوه برخه کې یې لیکي:
د طالبانو مشرانو چې ډېر یې په پاکستان کې اوسي، تراوسه جوړجاړي ته چمتووالی نه دی ښودلی خو د امریکا د دفاع وزیر رابرټ ګېټس د تېرې یکشنبې په ورځ په عام محضر کې تایید کړه چې متحده ایالاتو له طالبانو سره خبرې اترې پیل کړي، خو دا خبرې په ابتدایي مرحله کې دي. ګېټس دغه رازد دغو خبرو د نتیجې په اړه شک څرګند کړ.
نورو ډیپلوماتانو ویلي چې د طالبانو ډېر وسله وال به ترهغو پورې د جګړې لوری بدل نه کړي ترڅو په دې ډول خبرو کې پرمختګ حاصل شوی نه وي.
د نیویارک ټایمز په وینا لویدیځ حکومتونه هغه پلان ته ژمن دي چې له مخې یې وسله وال مخالفان دې ته هڅول کېږي چې له جګړو لاس واخلي او بیرته عادي ژوند ته راوګرځي.
له دغه پروګرام سره لویدیځ دولتونو د ۱۵۰ ملیون ډالرو د مرستو ژمنه کړې چې تراوسه یې ۱۴۰ ملیون ډالره رسولي دي. ډېره مرسته متحده ایالاتو او جاپان کړې ده.
نیویارک ټایمز وړاندې د جنرال فیل جونس له قوله چې پر دغه پروګرام د ناتو د څارنې مسوول دی، لیکي:
د جوړجاړي دغه پروګرام د هېواد په جنوبي او ختیځو سیمو کې ډېر پخ پرمخ نځي څکه ډېر وسله وال ویرېږي چې که خپله وسله پر څمکه کېښېږدي، نو طالبان به د دې کار په خاطر له دوی او کورنیو څخه یې غچ واخلي.
یوه لویدیځ ډیپلومات چې له طالبانو سره د ابتدایي تماسونو په اړه خبر دی، نیویارک ټایمز ته ویلي چې موږ به هله د دولت خوا ته د یو زیات شمېر کسانو د راوښتو شاهد واوسو چې کله په دغه سیاسي بهیر کې پرمختګ حاصل شي.
دغه ډیپلومات ویلي، د دې کار د عملي کېدو لپاره مهمه دا ده چې پاکستان څه ډول عکس العمل ښکاره کوي.

ډیلي ټیلیګراف:
ډیلي ټیلیګراف ورځپاڼې د افغانستان په اړه، ایا کله به موږ په ربښتیا هم له افغانستانه ووځو؟، ترسرلیک لاندې په یوه مطلب کې لیکي:
په اوس وخت کې د افغانستان په اړه ډېر بحثونه پر دې مسئلې څرخي چې څه به پیښېږي. د بریتانیا او امریکا حکومتونه غواړي هرڅومره ژر له دې هېواده ووځي.
په اوس وخت کې ټول له افغانستانه د عسکرو د ایستلو په اړه د ولسمشر بارک اوباما اعلان ته منتظر دي. تمه ده چې اوباما به په راتلونکې جولای میاشت کې دا په ډاګه کړي چې په لومړي ګام کې به څه شمېر عسکر په څومره وخت کې له دې هېوداه ایستل کېږي.
د بریتانیا صدراعظم ډیوید کامرون به هم ورپسې په دې اړه چې په افغانستان کې باید د بریتانوي ځواکونه شمېر څومره کم شي، خپله پرېکړه اعلان کړي.
هغه لا له مخکې ویلي چې د روان کال ترپایه به څلورنیم سوه غیرمحارب ځواکونه بیرته وطن ته ستانه شي.
خو د ډیلي ټیلیګراف په وینا هیڅ شی ډاډمن نه دی. تېرو تجربو ښودلې چې د سیاستوالو هغه ژمنې بنایي عملي بڼه وانه خلي لکه هغسې چې عام خلک یې تمه کوي.
په دې اړه چې څه شمیر بریتانوي عسکر به په څومره وخت کې له افغانستانه وځي، دا په دې پورې تړلې ده چې د افغانستان حکومت او د دې هېواد امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسوولیتونو د سپارلو بهیر څومره پرمختګ کوي.
د بریتانیا د دفاع وزیر لیام فاکس له افغانستانه د بریتانوي ځواکونو د وتلو په اړه محتاطانه نظر ورکړ او له ډیلي ټیلیګراف سره په خبرو کې یې وویل چې ممکن یو زیات شمېر بریتانوي سرتېري له ۲۰۱۴ م کال وروسته هم په دې هېواد کې پاتې شي، دغه ځواکونه به نه یوازې د افغان حکومت ملاتړ کوي بلکې په سیمه کې به د بریتانیا د ملي ګټو ساتنه هم کوي.
هغه وویل، دا واضح ده چې بریتانوي ځواکونو یوه لسیزه مخکې په دې جګړه کې د دې لپاره ونډه واخیسته چې د افغانستان له خاورې القاعده، بریتانیا او نړۍ ته ګواښ متوجه کړی و او اوس هلته د دې لپاره حضور لري چې القاعده بیا افغانستان په خپلې خوندي ځالې بدل نه کړي.

با وجود عبارات اعتراض آمیز، روابط حامد کرزی و امریکا مستحکم می باشد

کابل، رسانه ها:
سفیر افغانستان در واشنگتن اکلیل حکیمی اظهار می دارد با وجود عبارات غیر معمول اعتراض آمیز از سوی سفیر امریکا علیه رییس جمهور کرزی، روابط بین آقای کرزی و اداره امریکا مستحکم می باشد.
آقای حکیمی با این سخنان خود سعی کرد سخنان اخیر هفته سفیر امریکا در افغانستان کارل آیکن بیری را در مورد رییس جمهور کرزی بی اهمیت جلوه بدهد.
آقای آیکن بیری در اشاره واضح به رییس جمهور کرزی گفته بود که بعضی از تبصره های رهبران سیاسی افغانستان غیر مناسب و زیان آور می باشد.
آقای حکیمی اظهار داشت در تصویر کلی، نکات مثبت در روابط طرفین بی حساب است، اما مشکلات جزیی هم وجود دارد. به گفته آقای حکیمی دوست واقعی کسی است که حقایق را برملا می کند و مثل مشهور افغانی را تکرار کرده است که می گوید دوست آنست که بگریاند.
به هر ترتیب به نوشته خبرگزاری این گونه صراحت لهجه در یک زمان حساس که انتقال مسوولیت های امنیتی به قوای افغان آغاز می شود و امریکا خروج سربازانش را از افغانستان آغاز می کند، تاثیر مثبت بر اوضاع نخواهد داشت.
ده سال بعد از آنکه رییس جمهور کرزی به کمک غرب قدرت را بدست گرفت، آقای حکیمی اظهار می دارد که رهبران کابل و واشنگتن در ساحه امنیتی، بازسازی و تلاشها برای حل بحران افغانستان از طریق مذاکره یکجا و در پهلوی هم کار می کنند.
اما به نوشته خبر گزاری در کانگرس سخنان رییس جمهور کرزی مخصوصاً بیانات چند هفته قبل وی که گفته بود خطر آن وجود دارد که قوای ناتو بحیث اشغالگر دیده شوند، نا راحتی ایجاد کرده است.
حکیمی تصدیق نمود که رییس جمهور کرزی بعضی اوقات اعتراض آمیز صحبت می کند، زیرا مردم افغانستان در خط اول جبهه قرار دارند، پسران، دختران و مردم سالخورده آنها تلف می شوند و افغانها قربانی اصلی می باشند.
به نوشته خبر گزاری با آمدن سفیر نو امریکا به افغانستان ممکن است روابط دوباره نزدیکتر شود، زیرا سفیر کنونی امریکا در افغانستان کارل آیکن بیری در رابطه با آقای کرزی نظریات چندان مثبت ندارد و در اسناد ویکی لیکس هم از زبان وی الفاظ اعتراض آمیز علیه رییس جمهور کرزی به نشر رسیده است.
روابط بین حکومت امریکا و رییس جمهور کرزی سال ۲۰۰۹ بعد از آنکه نماینده خاص سابق امریکا برای افغانستان و پاکستان ریچارد هولبروک در مورد نتایج انتخابات ریاست جمهوری افغانستان با رییس جمهور کرزی داخل مشاجره شد، تاحدی نا هموار گردید.
آقای هولبروک ناگهانی وفات کرد و اکنون دپلومات دیگر امریکایی مارک گراسمن کار اورا پیش می برد و تحلیلگران به این نظر اند که با آمدن سفیر نو امریکا به افغانستان به عوض آقای آیکن بیری، شاید روابط بین واشنگتن و کابل نیز دوباره نزدیکتر شود.

تصمیم اوباما در مورد...
گیرد که از یک طرف او چشم به دورنمای انتخاب مجدد ریاست جمهوری در سال ۲۰۱۲ دارد و از جانب دیگر اعضای کانگرس هردو حزب، می خواهند مصارف بودجه فدرال و از جمله مصارف جنگ کاهش یی یابد.
سبستان گورکایک تحلیلگر امور نظامی در موسسه دفاع از دموکراسی مستقر در واشنگتن به رادیو آزادی گفت، نیروهای امنیتی افغانستان هنوز آماده نیستند مسوولیت تامین امنیت را بعهده بگیرند.
گورکا افزود:
"حقیقت اینست که اگر شما بصورت ساده به ارقام مربوط مساحت قلمرو که ما راجع به آن صحبت می نمایم توجه کنید، تعداد نیروهای ایتلاف و همچنان تعداد نیروهای افغانی که بصورت باالقوه در اختیار حکومت حامد کرزی قرار دارد بسیار کم است و ما بسیار دور هستیم از آن که بتوانیم مسوولیت اوضاع امنیتی را به نیروهای محلی حکومت افغانستان بسپاریم تا از حاکمیت ملی خود بصورت موثرانه دفاع نمایند."
اما بعضي از مشاورین اوباما استدلال می نمایند که پیشرفت های امنیتی د۴ افغانستان توام با کشته شدن بن لادن و همچنان موفقیت های ایالات متحده امریکا در جهت متلاشی ساختن شبکه القاعده، برای اوباما این فرصت را میدهد تا تعداد زیاد تر نیروها را از افغانستان خارج نماید.
اما عده دیگری می گویند، تصمیم اوباما مبنی بر خروج نیروها نه تنها تاثیرات وسیع برای مصروفیت آینده ایالات متحده امریکا در افغانستان دارد بلکه برای تعهد ایتلاف ناتو در افغانستان و روابط آشفته واشنگتن با پاکستان همسایه افغانستان نیز دارد.
مقامات اداره اوباما می گویند، بسیار احتمال دارد که بارک اوباما، تمام ۳۰۰۰۰ عسکر اضافی را تا ختم سال ۲۰۱۲ میلادی از افغانستان خارج کند.
اما بعضی از مقامات بصورت خصوصی تخمین کرده اند که بارک اوباما در نظر دارد میان ۳۰۰۰ تا عسکر ۵۰۰۰ عسکر را در مرحله نخست و به همین تعداد را در ختم سال از افغانستان بیرون بکشد.
رابرت گیتس وزیر دفاع امریکا در اوایل ماه جاری در جریان سفرش به کابل گفته بود:
«مردم افغانستان باید دو موضوع عمده را بخاطر داشته باشند: اول- زمانی که ایالات متحده امریکا و متحدین ایتلافی ما عساکر خود را به مرور زمان از افغانستان کاهش می دهند، ما به مشارکت دراز مدت ستراتیژیک با افغانستان متعهد خواهیم بود. دوم این که ما به تربیه، تجهیز و حمایت نیروهای امنیتی افغانستان ادامه می دهیم و هر کمک که بتوانیم انجام می دهیم تا حکومت افغانستان وضع زنده گی مردم را بهبود ببخشد. خلاصه که برای خارج شدن عجله وجود ندارد.»
جی کارنی سخنگوی قصر سفید به روزنامه نیویارک تایمز گفته است، جنرال دیوید پترویس قوماندان نیروهای ناتو در افغانستان بروز پنجشنبه گذشته با بارک اوباما ملاقات کرد و در باره چندین انتخاب با او صحبت نمود. اما انتخاب مشخص جنرال پترویس که به رییس جمهور ارایه کرده، فقط به یک گروپ محدود مقامات بلند پایه معلوم است و در بیانیه روز چار شنبه اعلان خواهد شد.

د کونړ ولایتي شورا د پاکستان...
هغه زیاته کړه، چې په دغو بریدونو کې خلکو ته د مرګ ژوبلې ترڅنګ ډېر زیات مالي زیانونه هم اوښتي دي.
شینواری وایي، چې د دغو بریدونو له وېرې د سرحدي ولسوالیو له لوړو او غرنیزو سیمو شپږسوه اتیا کورنی کډېکولو ته اړې شوې او دغه لړۍ اوسهم روانه ده.
د ولایتي شورا یو غړي سلطان صدیقي پژواک اژانس ته وویل، چېدوی دولتي مسوولین خبر کړي، خو تر اوسه یېهېڅاقدام نه دی کړی.
دی وایي، که دولت په خپله خاوره د پاکستان هېواد د بریدونو مخه نه شي نیولای، نو ولس ته دېوسله ورکړي، تر څو د خپلېخاورېساتنه وکړي.
د هغه په وینا، پاکستان د سولې په روانو هڅو کېلهدوه مخیسیاست څخه کار اخلي او نه غواړي، چېد سولېله بهیر سره همکاري وکړي.
نوموړي له دولت څخه وغوښتل، چېد سفارتي اړیکو، نړیوالې ټولنېاو د امنیت شورا له لارېدې پر خپله خاوره له ښکاره بریدونو مخه ونیسي.
هغه زیاتوي، که چېرې د دغو بریدونو مخه ونه نیول شوه، نو ولس به په خپله د خاورې ساتنه وکړي، خو دولت دې ورته وسلې ورکړي.
د یادونې ده، چې د دغو بریدونو په غبرګون پرون د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د پاکستان سفیر احضار او هغه ته یې خپله اندېښنه څرګنده کړه.
پاکستان تر اوسه په رسمي توګه په دې اړه کوم غبرګون نه دی څرګند کړی.

اختلاف پنتاگون و کاخ سفید...
وجود داشت و اکنون پس از تلفات نظامي و هزینه‌هاي هنگفت اقتصادي جنگ افغانستان، رو به افزایش است.
این روزنامه نگار افغان افزود: پنتاگون براي ادامه حضور خود در افغانستان و شکست طالبان و القاعده اصرار مي کند، در حالي که برخي از اعضاي مجلس سناي این کشور و رئیس جمهور که مشروعیت خود را از مردم مي گیرند، تلاش مي کنند تا به نگراني‌هاي مردم که فرزندان‌شان در جنگ افغانستان کشته مي‌شوند، پاسخ دهند.
وي اظهارداشت: نظر "جو بایدن" معاون رئیس جمهور امریکا از اول این بود که در افغانستان به جنگ گسترده نیاز نیست، بلکه باید در این کشور پایگاه‌هاي نظامي ایجاد کرد تا اهداف منطقه‌اي امریکا در افغانستان را دنبال کنند.
به گفته وي، بایدن تأکید کرده بود: براي پیاده کردن دموکراسي در افغانستان نیاز به جنگ نیست و امریکا نباید براي پیاده کردن دموکراسي در افغانستان دست به جنگ گسترده و جبران ناپذیر بزند بلکه افغانستان را باید به حال خودش واگذاشت و سرنوشت آن را به خود افغانها سپرد و امریکا نباید در زندگي مدني و فرهنگي افغان ها مداخله کند.
وي اظهار داشت: بر این اساس رئیس جمهور امریکا اعلام کرد که از سال ۲۰۱۱ روند خروج نیروهاي امریکا از افغانستان را آغاز مي کند و تا سال ۲۰۱۴ تکمیل خواهد شد.
به باور این کارشناس افغان، طرح خروج نیروهاي امریکایي از افغانستان، در حالي که ناامني و خشونت بیش از پیش افزایش یافته است، زمینه ساز ایجاد پایگاه نظامي دائمي در افغانستان است، زیرا با ایجاد پایگاه نظامي در این کشور، هم به نگراني‌هاي مردم امریکا پاسخ گفته شده و هم هزینه‌هاي سنگین مالي را کاهش مي دهند.
وي تصریح کرد: ازسویي دیگر، امریکا قصد دارد به مردم افغانستان وانمود کند که با حضور آنها، خشونت رو به افزایش است و در صورتي که این نیروها از افغانستان خارج شوند، این کشور به وضعیت قبل از حضور این نیروها بر خواهد گشت.
وي افزود: اظهارات مقامات نظامي امریکا که نیروهاي افغان براي گرفتن مسئولیت امنیتي آماده نیستند و باید خروج نیروهاي امریکایي از این کشور تا سال ۲۰۱۲ به تعویق افتد، بر همین منطق استوار است.
مدیر مسئول روزنامه تصریح کرد: امریکایي‌ها به نظر و خواست افغان‌ها توجه نمي کنند و براي فریب افکار عمومي به طرح‌ها و ابراز نظرهاي مختلف مي‌پردازند.
شفیقي علاوه کرد: امریکایي‌ها اهداف خود را بصورت منظم دنبال مي کنند و تلاش دارند از هر راه ممکن تلفات نظامیان و هزینه‌هاي مالي خود را کاهش دهند که یکي از راه‌ها ایجاد پایگاه نظامي و عدم حضور در جنگ‌ها است.
روزنامه نگار افغان ایجاد بحران در افغانستان توسط مقامات امریکایي را برنامه ریزي شده خواند و گفت: امریکا مي‌خواهد بحران به حدي باشد که از کنترل آنها خارج نشود و منافع امریکا را با خطر مواجه نسازد.
وي تأکید کرد: ادامه و افزایش بحران در افغانستان و ادامه کشتار این مردم، بهانه‌اي براي ماندن دائمي امریکا در افغانستان است، آنها با ایجاد بحران در این کشور براي حفظ منافع خود تلاش مي کنند.
شفیقي با تأکید بر این که امریکایي‌ها براي فریب اذهان مردم افغانستان و جهان مسائل مختلفز را ابراز مي‌دارند و خودشان به حرف‌هاي که مي‌زنند اعتقادي ندارند، افزود: امریکایي‌ها براي بهبود وضع زندگي افغان‌ها و آوردن ثبات در این کشور کوچکترین تلاشي نکرده‌اند و تمام تلاش آن‌ها کاهش تلفات نظامیان خود و راضي کردن اذهان مردم کشورشان است.
وي هزینه روزانه نظامیان امریکایي که بیش از یک میلیون دلار است را فشاري بر مردم امریکا خواند و خاطر نشان کرد: این هزینه‌ها از مالیات مردم امریکا تأمین مي‌شود که توجیهي براي مصرف آن از سوي نظامیان امریکا وجود ندارد.
شفیقي اذعان کرد: تنها راه خروج امریکا از این بحران گوش دادن به حرف‌هاي مردم افغانستان است، امریکایي‌ها از اول قدم‌هاي نادرست را در افغانستان برداشتند و این اشتباه بحدي رسیده که برون رفت از این بحران براي آنها درد سر ساز شده است.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالجلیل محمد خلیل
د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
دیزاین خواجه وحیدالله
آدرس د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com